Baghlan University Academic Research Journal
https://baghlan.edu.af/ Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 141-154

# A Study in the Change of the Last Word in a LANDAY

**Rahimullah Gahiz**
Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Rahimullah Gahiz, **E-mail:** r.gahiz@gmail.com

**Article Info**

**Article Type:** Research Article

**Article History:**

**Received:** 11, May, 2025

**Accepted:** 18, May, 2025

**Published:**15, June,2025

**ABSTRACT**

Landay is considered one of the prominent genres in oral poetry of Pashto literature. The epic folk literature (LANDAY) has a significant aspect characterized by a unique form, rich thematic diversity, and unparalleled visual beauty, containing by a profound, intense, and extraordinary impact. This magical effect has become the reason for its literary and social popularity, illuminating the realm of literature. This study follows a descriptive and analytical method. The importance of this research includes in exploring Landay from a new perspective and point of view. This article focuses on some crucial aspects such as scientifically challenge as well as correct the statements and opinions that are claimed in a Landay and mostly ends with (no, don’t, not, etc.). It is considered true that such expressions may appear at the end of a Landay. However, they are not independent but rather concerned as parts of other words. The main elements should be identified in order to understand bitterly. Here, Landay are examined in terms of how the final word functions and leading to a new classification and division of Landay. Broadly, Landay are categorized into two groups: nominal and verbal, with each group further subdivided into other categories. Additionally, this research highlights the value, significance, and contribution of the last word, particularly the last two syllables, in the enjoyment and resonance of a Landay.

**Keywords:** Landay, Retheme, Melody, Nominative and Verbal Landay, Wave .

To cite this article: Gahiz, R. H: 2025. A Study in the Change of the Last Word in a LANDAY. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 - Spring (2025), 141-154.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan


د بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ Vol 13. Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 141-154

# د پای ټکي بدلون له پلوه د لنډۍ څېړنه

**پوهنیار رحیم الله ګهیځ**

د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي، د پښتو ژبې او ادب څانګه.

| اطلاعات مقاله | لنډیز |
|---|---|
| **نوع مقاله:**<br>مقاله علمی-تحقیقی<br><br>**تاریخ دریافت:**<br>۱۴۰۴/۰۲/۲۱ هـش<br><br>**تاریخ پذیرش:**<br>۱۴۰۴/۰۲/۲۸ هـش<br><br>**تاریخ انتشار:**<br>۱۴۰۴/۰۳/۲۵ هـش | لنډۍ د پښتو منظوم ولسي ادب تر ټولو مقبول او منلی ژانر دی. د منظوم ولسي ادب دغه درنه برخه د ځانګړې بنې، سکښت، موضوعي رنګارنګۍ او د کمسارې انځوریزې ښکلا سربېره د شدید، ژور، بې مثاله، خوند او اغېز ملکه هم ده. همدا جادویي اغېز یې د ادبي او ټولنیز محبوبیت لامل ګرځېدلی او هغه یې د ادب پر اسمان ځلولې ده. د دې څېړنې اهمیت دا دی، چې لنډۍ د یوې نوې زاویې او لید لوري څېړي. دا یوه کتابتوني څېړنه ده، چې د مرکب( تشریحي- تحلیلي) مېتود پر مټ یې مواد تحلیل او سپړل شوي دي.د دې څېړنې اړتیا او موخه د هغه خبرو او نظرونو علمي ننګول او سمول دي، چې وايي: لنډۍ تل په (نه، مه، ونه او...) پای ته رسېدلې دي. دا سمه ده، چې یاد ویېکي به د لنډۍ په وروستۍ برخه کې راغلي وي؛ خو مستقل نه دي؛ بلکې د نورو کلمو برخې دي، چې د بنې پېژندنې لپاره یې باید اصلي کلمې وپېژندل شي.دلته لنډۍ د وروستي ټکي د څرنګوالي له پلوه څېړل شوې، چې پایله یې د لنډۍ یوه نوې ډلبندي او وېش دی، چې په لویه کې لنډۍ په دوه ( نومیزه او فعلي) ډلو وېشي، چې هره ډله بیا په نورو ډلګیو وېشل شوې ده. همدارنګه دا څېړنه د لنډۍ په خوند او شرنګ کې د وروستي ټکي په ځانګړې ډول وروستیو دوې څپو ارزښت، اهمیت او ونډه په ښه شان څرګندوي. |

**کلیدي کلمې:** اهنګ، لنډۍ، فعلي لنډۍ، څپه، نومیزه لنډۍ، وزن.

استناد: ګهیځ، رحیم الله. (۱۴۰۴)، د پای ټکي بدلون له پلوه د لنډۍ څېړنه، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۱، بهار (۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۶، دور۱۳. (۱۴۱-۱۵۴) .

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سریزه**

لنډۍ د پښتني ژوند رڼه هېنداره ده. په دې هېنداره کې د پښتني ژوند ټولې لوړې ژورې په ډېر دقت، ساده‌ګۍ او خورا ځانګړي مهارت انځور شوي او هر انځور یې د پښتني ژوند و ژواک نګه او رښتینې کېسه ده. د دې انځورونو یوه ښه ځانګړتیا دا ده، چې نه یې د زمان ترخې سیلۍ له ځانه سره وړلی شي او نه یې پاک مخ خړولی شي. لنډۍ چې د پښتو ولسي ادب درنه او لویه برخه ده، د ځانګړي فورم، سکښت، موضوعي رنګارنګۍ او ښکلا سربېره د شدید، ژور او بې مثاله اغېز ملکه هم ده، همدا جادویي اغېز یې د ادبي او ټولنیز مقبولیت لامل ګرځېدلی او هغه یې د ادب پر هسک ځلولې او له دې بابه په پښتو شفاهي او لیکني ادب کې ساری نه لري.

په تاریخي لحاظ لنډۍ د پښتنو د ژوند همزولې دي؛ نو ځکه یې پیښلیکي مخینه ډېره زیاته او تقریبا د پښتون ولس له پیدایښت سره نږدې منځ‌ته راغلې ده، خو لیکلې بڼه یې هغه مهال پیل شوې، چې لیک‌لوست په پښتنو کې رواج موندلی دی. لنډۍ د ولسي ادب له عامو سندرو څخه دي. په دې مانا چې پنځونکي یې مالوم نه دي؛ نو د همدغه دک و دلیل پربنسټ د لنډیو عمر، پېښلیکي مخینه، دپنځونې ټاکلی ځای او مهال په درست او یقیني توګه نه شو معلوملای، که څه هم ځینو فولکلوریستانو او ادب څېړونکو کوښښ کړی او د ځینو مشهورو لنډیو عمر، ځای، مهال او پنځوونکي یې را په ګوته کړي دي، خو په حقیقت کې د دغو څېړونو لاس ته راغلي پایلې د لنډیو د آر عمر او منګ پرتله یوه شېبه هم نه دي. ځکه د دغو لنډیو عمر، ځای او مهال ټاکنه د همدغو لنډیو په مورد کې صدق کوي، نه د ټولو. د پښتو ولسي ادب، په ځانګړي ډول د لنډیو په اړه ډېرې زیاتې څېړنې شوي دي او کېږي، خو د دې څېړنې ارزښت او اهمیت دا دی، چې پښتو لنډۍ یې له یوې نوې زاویې او لیدلوري سپړلې او څېړلې ده، چې پایله کې یې د لنډۍ د دویمې مسرې روستنیو دوو څپو د جوړښت او څرنګوالي له پلوه د لنډۍ یوه نوې ډلبندي رامنځ ته کړې ده، چې د ادبلوستو د پام وړ به وګرځي.

د دې څېړنې موخه دا ده، چې د لنډۍ د مسرەییز او وزني جوړښت سربېره هغه کومې کلمې او ټکي دي، چې د لنډۍ بڼې پرې بېلولی شو؟دغه ټکي د کومو ځانګړتیاوو د درلودلو پر بنسټ د لنډۍ وزن او آهنګ ساتنه او بشپړونه کوي او لنډۍ په لوست کې اساني او رواني راولي؟ په دې څېړنه کې (لنډۍ) د روستي ټکي د بدلون له پلوه شنل شوې ده، چې د لنډۍ یو نوی وېش یې هم ګڼلی شو. په دې ویش کې لنډۍ پر دوه لویو (نومیزو او فعلي ) ډولونو تقسیم شوې او بیا د خپلو ځانګړنو او توپیرونو پر اساس، هر ډول پر نورو کوچنیو ډلګیو وېشل شوی دی.

په نومیزه ډله کې هغه لنډۍ شاملې دي، چې د دويمې مسرې په وروستۍ برخه کې يې نوم/ ستاينوم راغلی وي او د لنډۍ وروستۍ خجنه څپه يې جوړه کړې وي. د دې ډول لنډيو د څپو شمېر، وزن او آهنګ د بشپړولو په موخه مفرد نوم او ستاينوم منادي کېږي، چې د ندا توری( زور) يې د نوم/ ستاينوم د وروستي توري سره يوځای نښلي او د لنډۍ وروستۍ آهنګينه څپه جوړوي. که د لنډۍ روستۍ برخه کې جمع نوم راغلی و، نو بيا د نوم اخري او د روستاړي لومړی توری د مسرې وروستۍ خجنه څپه جوړوي او د روستاړي پاتې برخه(نه) د لنډۍ څپې، وزن او موسيقي بشپړوي. د نومیزې ډلې خلاف؛ فعلي لنډۍ بيا هغه دي، چې د دويمې مسرې په روستۍ برخه کې يې فعلونه راغلي وي او د لنډۍ روستۍ درنه څپه يې جوړه کړې وي. د دې لنډيو د څپو شمېر،رواني، وزن او آهنګ د زور او مترنم( نه na) په زياتولو سره رامنځته کېږي. دا ډله بيا د څرګندو خپلمنځي توپيرونو له امله پر شپږو ډلګيو وېشل شوې ده.

**د څېړنې مېتود**

د پای ټکي د بدلون له پلوه د لنډۍ څېړنه، يوه کتابتوني څېړنه ده. د دې څېړنې مواد د معتبرو لومړني لاس ماخدونو څخه اخيستل شوي او بيا د مرکب ( تشريحي- تحليلي) مېتود پر بنسټ، په پوره ځيرتيا او صداقت سپړل شوي دي.

**د لنډۍ پېژند**

لنډۍ چې د پښتو ولسي سندرو يوه ستره او ارزښتناکه برخه ده، ځان ته ځانګړی فورم، سکښت، وزن او آهنګ لري. لنډۍ معمولا د يوه بيت په ډول دوې مسرې/ کرښې لري، چې لومړۍ کرښه يې لنډه (نهه څپې) او دويمه کرښه يې اوږده (ديارلس څپې) وي. تر دې دمه د لنډۍ لپاره ډېر زيات تعريفونه وړاندې شوي، چې ځينې يې د تامل وړ دي، لکه:«لنډۍ هغه دوه مسريزه شعر دی، چې لومړۍ او دوهمه مسره يې نه په قافيه کې سره يو شی او نه په وزن کې سره برابري وي» (رفيع، ۱۳۴۹: ۱۰۲).

پورتنی تعريف په خپله لمن کې د يوه بشپړ پېژند ټولې ځانګړنې نه لري، يوازې د لنډۍ کمي څرنګوالی په ناقصه بڼه وړاندې کوي. سمه ده، چې د لنډۍ دواړه مسرې په کمي لحاظ برابرې نه دي( لومړۍ نهه او دويمه ديارلس) څپې لري او نه د نورو قافيه‌والو شعرونو په څېر څرګنده قافيه لري؛ خو د پښتو د ملي او ولسي وزنونو تابع ده. د هر رکن پر څلورمه څپه يې پياوړی خج راځي او دغه خج نه پرېږدي، چې د لنډۍ وزن مات شي. همدا لامل دی، چې د لنډۍ په لومړۍ او دويمه مسره کې د څپو اختلاف د لنډۍ وزن نه شي ماتولی؛ ځکه چې دغه څپې د لنډۍ په وجود کې د يوه باقاعده نظم او جوړښت له مخې اوډل شوې دي او په تفلظ کې يې کمی يا زياتی نه محسوسېږي. بل د لنډۍ

وروستۍ خجنه څپه، چې یو موزیکل اهنګ لري او اخري مترنمه څپه؛ د لنډۍ وزن او موسیقي دواړه بشپړوي، چې له برکته یې په لنډۍکې د قافیې کمی نه احساسېږي.

پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار په خپل اثر(پښتو بدلمېچ ) کې لنډۍ داسې راپېژني« لنډۍ یو داسې خپلواک دوه مسریزه، په بله وینا یو بیته شعر دی، چې لومړی مسره یې نهه څپیزه او دویمه یې دیارلس څپیزه ده، چې وروستۍ خجنه څپه یې یو موزیکال اهنګ رامنځته کوي، له خجیز پلوه یې له سره تر پایه هره څلورمه څپه یو غوره یا پیاوړې خج ټیکاو لري او ترخنګ یې نورې څپې په اړوندو وییونو کې خپل خپل خجونه هم ساتي» (زیار، ۱۳۸۹: ۲۷۴).

**دلنډۍ ځانګړنې**

لنډۍ دپښتو ژبې د شعري ژانرونو په مجموعه کې یوه کوچنی: خو له اهنګ او ترنګ ډک ژانر دی. پښتو ژبې د دغه شعري ژانر زړه راښکون، ترنګتوب او د هغه سره د خلکو بې‌سارې مینه او... کوم تصادفي کار نه دی، بلکې دا هغه څه دي چې د لنډیو د ځانګړنو سره نېغې اړیکي لري. مونږ ترې په لنډ ډول یادونه کوو. د لنډۍ خاص شاعر او څرګند مهال معلوم نه دی او دا ناشونې ده، چې کومه لنډۍ په کوم خاص شاعر او سیمې پورې وتړو او ووایو، چې دا لنډۍ فلاني شاعر هلته/ دلته، نن یا پرون ویلې ده. که داسې لنډۍ وي هم، ډېرې لږې او دګوتو په شمېر به وي؛ خو د ولسي لنډیو په شان به نګه، زړه راښکونکې، له خونده او شوره ډکې نه وي. د لنډۍ یوه لویه ځانګړنه همدا ده، چې د شاعر او پنځګر له انفرادي ملکیت څخه ځان ژغوري او په ملي عنعنوي ادب یې ورګډېږي او بیا یې هر څوک خپل مال ګڼي. بله ځانګړنه یې دا ده ، چې اغېز او تاثیر یې ډېر زیات دی، چې په نورو شعرونو کې ډېر کم پیداکیږي. دهمدغه اغېز او تاثیر له کبله یې د ټپې نوم هم ګټلی دی، چې اورېدل یې سړی ټپي کوي. بله دا چې لنډۍ زیاتره د ښځو له خوا ویل شوې؛ نو د ښځو وینا ډېره مؤثره وي؛ ځکه خو د لنډیو اغېز د نورو شعرونو پر تله په کراتو زیات دی. ښاغلي حبیب الله رفیع (د خلکو سندرې) نومي کتاب کې د لنډیو یوه ځانکړنه داسې لیکلې ده: « چې هره لنډۍ ځانګړې دایروي او سره تړلی زنځیر دی، چې هیڅ په بله لنډۍ پورې نه دی تړل شوی.»(رفیع، ۱۳۴۹: ۹۸).

یانې هره لنډۍ په لومړۍ مسره پیل او په دوهمه مسره پای ته رسیږي او یو ځانګړی مفهوم په لنډ ډول پکې ځای شوي وي، چې په لېږد کې بلې لنډۍ ته اړتیا نه‌لري. بله دا چې د نړۍ په نورو ژبو کې دا راز شعر نه‌شو موندلای، دغه سرلوړي او ویاړ یوازې د پښتو ژبې په برخه دی.

**لنډۍ د پای ټکي د بدلون له پلوه**

د پښتو لنډۍ د وروستي ټکي (کلمې) په اړه تر دې دمه کومه مستقله څېړنه نه وه شوې. یوازې، ځینو څېړونکو د لنډۍ د تعریف په برخه کې یادونه کړې چې لنډۍ تل په مه، نه او... پای ته رسېدلې وي. د دغه څېړونکو څخه یو یې دوست محمد دوست دی، چې د خپل کتاب (د پښتو ولسي ادب لارې) داسې لیکلي دي: « لنډۍ همېشه له دوو برخو جوړې وي چې لومړۍ برخه یې(۹) او دویمه برخه یې(۱۳)سېلابه وي... دلنډۍ[دویمه] مصرعه همېشه په (ونه-UNA) څرګند واو ،(ینه-INA)څرګنده ي،(زورکی – ه) مجهوله یې+ مه پای ته رسیږي»( دوست، ۱۳۸۵: ۷۰). د لنډۍ په پورتني تعریف کې د دویمې مسرې ځانګړنې د غور وړ دي. زموږ د دې څېړنې په ترڅ کې به د همدغه خبرو تحلیل او سپیناوی وشي او څرګنده به شي، چې د وروستي ټکي د بدلون له پلوه لنډۍ څو او کوم ډولونه لري. لنډۍ د روستي ټکي د بدلون له پلوه په لاندې ډولونو وېشلی شوو:

۱- نومیزې لنډۍ ۲- فعلي لنډۍ

**۱- نومیزه/ نومیزې لنډۍ**

هغه لنډۍ چې د دویمې مسرې وروستۍ برخه یې له نوم څخه جوړه وي، نومیزې لنډۍ بولو او په دوه ډوله دي:

**۱.۱- مفردې نومیزې لنډۍ**

هغه لنډۍ دي چې د دویمې مسرې په وروستۍ برخه کې یې مفرد نوم/ ستاینوم په منادي حالت راغلی وي او د نوم/ صفت ورستی توری یې د ندا علامت (زور) سره یوځای د مسرې وزن او موسیقي بشپړوي.په دې ډله کې یوه نیمه داسې لنډۍ هم پیدا کېږي چې پای کې راغلی نوم/ ستاینوم یې په نون او زور (نه) ختم وي، چې د ندایي حالت اړتیا یې نه‌وي. همدارنګه په دې ډول لنډیو کې ډېر وخت د مفرد نوم څخه مخکې بشپړ/ نیمګړی فعل راځي، لکه: په لاندې لنډۍ کې د (راوړه) فعل چې د نوم نه مخکې راغلی دی.

په وره کې دوې خوينــدې ولاړې
په مخ یې غبرګې اوښکې ځي ورک شي بېلتونه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۳۷)

د پورتنۍ لنډۍ د دویمې مسرې په وروستۍ برخه کې نوم (بېلتون) په ندایي حالت راغلی، چې (تو) برخې یې د مسرې د پای خجنه څپه جوړه کړې ده او وروستي توري(ن) د ندا زور(ه a ) سره یوځای د مسرې وزن او اهنګ بشپړکړی دی. همدارنګه په لاندینۍ بېلګه کې بیا د دویمې مسرې په وروستۍ

برخه کې ستاینوم( شیرین) په ندایي حالت راغلی او د مسرې د پای خجنه څپه یې جوړه کړې ده.
دلته هم د ستاینوم څخه د مخه د تېرمهال مطلق فعل( وکه/ وکړه) راغلی دی.

څــان او جـهـــان مـــې واړه هېـر کړه
مینې دې داسې په ما زور وکه شیرینه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۲۱)

پــه زړه مـــې ســـتا بـشـــره وربـړي
په بل بشر مې نه ماتېږي د زړه مینه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۲۶)

پورتنۍ لنډۍ د نومیزې لنډۍ هغه بېلګه ده، چې د دویمې مسرې پای کې داسې مفرد نوم( مینه) راغلی، چې په نون او زور(نه) پای دی او د لنډۍ د پای څپه یې اهنګینه کړې ده، ځکه ندایي حالت ته اړتیا نه‌لري. د دې ډول لنډیو بېلګې بیخي ډېرې کمې دي، چې ما هم له ډېرې پلټنې وروسته همدغه یوه بېلګه پیدا کړه. د نومیزې لنډۍ یوه بله بېلګه:

جانانه ولاړ شه برسات تېر که‌ځان ته
صدرۍ ما ته لونګ راوړه مئینه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۲۱۵)

**۲.۱- جمع نومیزې لنډۍ**

هغه لنډۍ دي، چې د دویمې مسرې وروستۍ برخه کې یې نرینه جمع نوم راغلی وي. په بله ژبه د دې ډله لنډیو وروستۍ خجنه څپه د نوم او روستاړي له یوځای‌کېدو رامنځ ته شوي وي او د روستاړي پاتې برخه(نه) یې مترنم کېږي او د مسرې وزن او آهنګ بشپړوي، لکه:

په لوړو غرو باندې باران شو
ښکته لانده شول د لونګو درمندونه
(بېنوا، ۱۳۹۰: ۴۹)

که پورتنۍ لنډۍ ته وګورو، نو پای کې یې نرینه نوم (درمند) راغلی او بیا د (ونه) په روستاړي جمع شوی دی او د لنډۍ وروستۍ خجنه څپه(دو ) د نوم او روستاړي له یوې- یوې برخې جوړه ده او د روستاړي پاتې برخې (نه) یې وزن او آهنګ بشپړکړی دی.

د شوخو سترګو نظربازه
اوس تېروه د کور وکلي تهمتونه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۲۴۵)

د پورتنۍ لنډۍ وروستۍ برخه کې ستاینوم (تهمت ) راغلی او بیا د(ونه) په روستاړي جمع شوی دی او د لنډۍ وروستۍ خجنه څپه ( تو) د نوم او روستاړي له یو- یو توري رغېدلې ده او د روستاړي پاتې برخې(نه) یې وزن او آهنګ بشپړکړی دی. د دې ډول لنډیو بېلګې هم پرېمانه دي. چې موږ یې یو څو ذکر کوو:

په لوړو غرو د خدای نظر وي
پر سر یې واورې وروي چاپېر ګلونه
( دوست، ۱۳۸۵: ۷۰)

په چونۍ جنګ دی ډزې کېږي
ګولۍ وربېږي وینو رنګ کړل وطنونه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۲۳)

په باغ کې مه وله کوترې
یوه به مړه کې بیا به نه راځي سیلونه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۱۹)

خانان به بیا سره خانان شي
پکې به خاورې شي رامبېل چامبېل ګونه
(منګل، ۱۳۹۱: ۵۱)

د پورتنیو لنډیو په پای کې په ترتیب سره( ګلونه، وطنونه او سیلونه) نرینه جمع نومونه دي، چې د دویمو مسرو په ورستۍ برخه کې راغلي او جمع نومیزې لنډۍ یې جوړې کړې دي. د دې برخې د پای په توګه یادونه کوم، چې د مفردې نومیزې لنډۍ په ویلو کې د اسانۍ او روانۍ سربېره د وزن او هنګ بشپړول د ندا توري( زور) په وسیله رامنځته کېږي او په جمع نومیزې لنډۍ کې دغه چاره د جمع روستاړي( ونه) د (نه) برخه سرته رسوي.

**۲- فعلي لنډۍ**

هغه دي، چې د دویمې مسرې وروستۍ برخه کې يې بشپړ/ نیمگړي فعلونه راغلي وي. د دې ډول لنډیو د څپو شمېر، وزن او آهنگ د بشپړېدو له پاره په راغلو فعلونو پورې د ترنم(نه na) یا زور(ه a) نښلي او لنډۍ جوړوي. فعلي لنډۍ پر پینځه ډلگیو وېشل شوي دي.

۲. ۱: دې ډلگۍ کې هغه لنډۍ شاملې دي، چې د دویمې مسرې روستۍ برخه کې يې راغلی فعل په میم( م) پای ته رسېدلی وي او دغه میم د مفرد متکلم فاعلي حالت ښيي، لکه: ځم، تلم او کړم فعلونه. دې لنډیو د څپو د شمېر، وزن او آهنگ د بشپړېدو په موخه د فعل د پای (م ) پورې زور(ه a ) نښلي او د لنډۍ وروستۍ اهنگینه څپه جوړوي. د دې ډول په هره لنډۍ کې راغلی فعل یا د فعل وروستۍ برخه د لنډۍ د دویمې مسرې روستۍ خجنه څپه جوړوي او په فعل پورې نښتی فاعلي صرفي روستاړی(م) د زیات کړی شوي زور سره د مسرې وروستۍ څپه رامنځته کوي او دنده يې د لنډۍ د خجیز ترتیب په وروستۍ خجنه څپه کې د خج ساتنه ده. په بل عبارت که دې ډول لنډیو ته پای کې زور ورزیات نه شي خجیز ترتیب د لاسه ورکوي.

دا چې د لنډۍ دوې مسرې ټولټال دوه ویشت څپې وي، د لومړۍ مسرې څلورمه او اتمه څپه او د دویمې مسرې څلورمه، اتمه او دولسمه څپه يې دروند او پیاوړی خج لري یا خجنې وي؛ نو وزن او آهنگ يې هم پر دغه خجنو څپو ولاړ وي. که د څپو مجموعي شمېر يې پوره هم وي؛ خو ذکر شوی ترتیب يې گډوډ شي، بیا هم د لنډۍ ښکلې مانۍ ړنگېږي. دغه شان که د لنډۍ خجیزو څپو ترتیب برابر وي او پای کې راغلی یا ورزیات شوی زور ترې لیرې شي، بیا هم د لنډۍ خجیز بنسټ او ترتیب ماتېږي او په عادي جمله بدلېږي.

د پښتونوالي درونه پته
زما په خوله دې لاس نیول گونگه دې کړمه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۷۵)

د پورتنۍ لنډۍ دویمې مسرې په روستۍ برخه کې فعل( کړم) راغلی او د مفرد متکلم فاعلي حالت ښيي. د دې فعل د (کړه) برخې د مسرې اخري خجنه څپه جوړه کړې ده. د څپو د شمېر، وزن او اهنگ د بشپړېدو په موخه زور ورزیات شوی دی، دغه زور د فعل د وروستي (م) سره د مسرې اخري څپه جوړه کړې. که زور(ه) ترې لیرې شي لنډۍ خپل هویت د لاسه ورکوي.

همدارنگه لاندینۍ لنډۍ په پای کې هم داسې فعل راغلی، چې د مفرد متکلم فاعلي حالت ښيي او د لنډۍ وروستۍ خجنه څپه کې د دغه بشپړ فعل یوه برخه(وه) راغلې ده او په پای(م) پورې یې زور نښتی، چې ورسره د لنډۍ خوند، رنګ او شرنګ پیاوړی شوی دی.

چې لو ولور شي خواري زور شي

په بخملي ګوتو به ورېي ټولومه

(لایق او مومند، ۱۳٦۱: ٦٦)

بله بېلګه:

زما د زړه په بازار جنګ دی

زړګی مې رېږدي ورخطا ولاړه یمه

(لایق او مومند، ۱۳٦۱: ٥۱)

دا ډله لنډۍ چې په پای کې فعل د مفرد متکلم په فاعلي حالت راغلی وي، تر ډېره د ویونکي پر شخصي احساساتو ورټولې وي او خپل حالت یې پکې تشریح کړی وي. دا لنډۍ خورا ډېرې دي؛ خو موږ د مقالې د اوږدېدو په وجه پر همدغه بېلګو بسنه کوو.

۲.۲: په دې ډلګۍ کې هغه لنډۍ شاملې دي، چې پای کې راغلې کلیمې یې د مفرد متکلم مفعولي حالت ښيي. په بل عبارت د دې قسم لنډیو په پای کې راغلي فعلونه د مرستیال فعل په مرسته د لومړي شخص مفعولي حالت څرګندوي او مرستیال فعل یې د زور په اخیستلو سره د لنډۍ وزن او اهنګ بشپړو، لکه:

څوک مې د حاله خبر نه دي

لکه غنم د زړه په سر چاودلی یمه

(بېنوا، ۱۳۹۰: ۳۵)

د پورتنۍ لنډۍ په پای کې د ( چاودلی) فعل د(یم) مرستیال فعل سره یوځای راغلی، چې د مفرد متکلم مفعولي حالت څرګندوي او د لنډۍ وزن او اهنګ د بشپړېدو په موخه یې مرستیال فعل( یم) سره زور زیات شوی دی. بله بېلګه یې په لاندې ډول ده:

د رغېدو امید مې نه‌شته

ستا خمارو سترګو پر زړه ویشتلی یمه

۳.۲ – د فعلي لنډیو د دې ډلګۍ جوړښت داسې دي، چې د دویمې مسرې وروستۍ برخه کې یې داسې بشپړ/ نیمګړی فعل راغلی وي، چې په څرګنده (ي) پای وي، چې د بشپړ فعل ورستۍ (ي) یې

د دریم مفرد شخص فاعلي حالت ښيي. د دې ډول فعلي لنډیو په پای کې بیا د څپو، وزن او آهنګ د بشپړولو په موخه د ترنم (نه na ) زیاتېږي لکه:

باد دې پټکی له سره یوسه
چې دا خیالي څنې دې ګڼې وډې شینه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۳۶)

د پورتنۍ لنډۍ روستۍ خجنه څپه د(شي) نیمګړي فعل څخه جوړه ده، دغه فعل په څرګنده(ي) پای دی او بیا ترنم (نه) د لنډۍ څپو، وزن او آهنګ د پوره کولو له پاره ورزیات شوی دی.که (نه) ترې و غورځوو؛ نو مسره به داسې شي: چې دا خیالي څنې دې ګڼې وډې شي. دا خو ښکاره ده چې د یوه (نه) په لرې کولو د مسرې د څپو د شمېر یوه څپه کم شو؛ خو ولې ورسره د لنډۍ موسقیت، وزن و آهنګ نیمګړی شو او شعري کیفیت یې وبایله؟ په داسې حال کې چې د لنډۍ د وزن برابرولو بنستیزې خښتې( د هر رکن څلورمه څپه چې پیاوړی خج پرې راځي او د لنډۍ وزن رغوي) لا هم پر خپل ځای دي، نه غورځېدلې او نه ښورېدلې؛ خو د لنډۍ د سوز وساز رنګینه مانۍ پر ځمکه دړې وړې پرېوته؛ دا ځکه چې د (نه) په غورځېدو روستۍ پیاوړې خجنې څپې (شي) خپل خج یا فشار وبایله او په مسره کې د متناسبو فاصلو را روان خجیز جوړښت خراب شو، چې ورسره د مسرې وزن و اهنګ ړنګ او په عادي جمله بدله شوه.

د دې ډول لنډیو نورې بېلګې:

صورت مې ټول په وینو رنګ دی
د زړه په سر مې کارغان ناست غوښې ترې خورینه
(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۵۰)

د پورتنۍ لنډۍ د دویمې مسرې دولسمه څپه له یوه بشپړ فعل (خوري) څخه جوړه ده، چې څرګنده (ي) یې په پای کې راغلې او بیا ورسره د ترنم (نه) نښتی او د لنډۍ وزن و آهنګ یې بشپړ کړی دی. کله- کله داسې هم وي چې د لنډۍ د دویمې مسرې وروستۍ خجنه څپه ټول فعل څخه نه؛ بلکې فعل د یوې برخې څخه جوړه وي، لکه: راځي فعل وروستۍ برخه( ځي) په لاندې لنډۍ کې.

اوبه مې څښلې ګل مې تېر شو
سینه باغچه شوه بوراګان ورته راځینه
( طایر، محمد نواز: ۱۹۸ )

د دې ډول لنډيو بېلګې پرېمانه دي؛ خو موږ د مقالې د طوالت په وجه د لاندې بېلګو په راړولو دا برخه راټولوو.

کوټه مې توره په لوګي ده
ما ته تکيه شه! دېوال ډډې توروينه

د غم سېلۍ راباندې راغله
د وجود ونه مې تر بېخه خوزوينه
(لايق او مومند، ۱۳۶۱: ۲۵۰)

۲-۴- په دې ډله کې هغه فعلي لنډۍ شاملې دي، چې د دويمې مسرې وروستۍ برخه کې يې داسې بشپړ/ نيمګړی فعل راغلی وي، چې د جمع په (و) پای وي، دغه (و) د لومړي جمع شخص فاعلي حالت ښيي او د وزن او اهنګ د بشپړېدو په موخه ورپورې د ترنم (نه) نښلي او لنډۍ جوړوي، لکه:

ستا د يارۍ پېغور يې راکه
مئينه ملا تړه چې دواړه سره ځونه
(لايق او مومند، ۱۳۶۱: ۳۲۷)

د پورتنۍ فعلي لنډۍ د دويمې مسرې په اخر کې چې کوم فعل ( ځو) راغلی د لومړي جمع شخص فاعلي حالت ښيي، او د لنډۍ وروستۍ خجنه څپه يې جوړه کړې او بيا د لنډۍ د موسيقيت، وزن او آهنګ د بشپړېدو په موخه ورسره (نه) زيات شوی او لنډۍ رغېدلې ده.

د دې ډول فعلي لنډيو بېلګې نسبتآ نورو فعلي لنډيو ته ډېر کمې دي. بله بېلګه يې:

په مرګ به واړه سره مړه شوو
ارمان مې دا دی چې به وړاندې روسته شونه
(لايق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۴۰)

۵.۲- پينځم ډول فعلي لنډۍ داسې دي، چې د لنډۍ د دويمې مسرې په وروستۍ برخه کې د فعل وروسته د تېر مهال مورفيم (و/ وو) راغلی وي، چې د لنډۍ وروستۍ درنه څپه جوړوي. د دې لنډيو په پای کې هم د ترنم (نه) زياتېږي، لکه:

ډېوه رڼا که دېدن وکه
سبا به وايې چې ما خوب ليدلی و نه
(لايق او مومند، ۱۳۶۱: ۲۶۹)

د پورتنۍ لنډۍ د دویمې مسرې وروستۍ برخه کې اول فعل (لیدلی) ورپسې د تېرمهال نښه( و) راغلې، چې د لنډۍ وروستۍ خجنه څپه جوړه کړې او بیا د موسیقیت او وزن د برابرولو له پاره ورسره (نه) اضافه شوی او لنډۍ رغېدلې ده. د دې ډول لنډیو بېلگې هم د نورو فعلي لنډیو پر تله کمې دي. بله بېلگه یې:

سترگو مې زړه ته گیله وکړه چې مئین

ته شوې اوښکې مونږه تویه وونه

(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۲۳۱)

۶.۲- شپږم ډول فعلي لنډۍ هم شته. دا هغه لنډۍ دي چې د دویمې مسرې په وروستۍ برخه کې راغلی فعل یې په زورکي پای ته رسېدلی وي. دغه زورکی کله ناکله په لیکلو کې لوېږي/ غورځي. د دې لنډیو په پای کې هم د وزن او آهنگ په موخه د ترنم(نه) زیاتېږي، لکه:

پـه نصـیبه بـه مـې پرتـه وه مـا خـو د

داسـې مـوزي در تــه نــه کاتــه نــه

(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۳۷)

پورتنۍ لنډۍ د دویمې مسرې په وروستۍ برخه کې راغلی فعل( کاته) داسې فعل دی، چې په زورکي(ۀ a ) پای ته رسېدلی دی. د دغه فعل وروستۍ برخې(ته) مسرې ورستۍ درنه څپه جوړه کړې او بیا د وزن او اهنگ له پاره ورسره د ترنم(نه) زیات شوی دی.

که دیدن کړې تلوار راوکه

پرمخ مې شال د بېلتانه وغوړېدنه

(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۴۳)

د پورتنۍ لنډۍ د دویمې مسرې په روستۍ برخه کې هم داسې مطلق فعل (وغوړېده) راغلی، چې په زورکي پای دی، خو د ترنم (نه ) د راتگ په وجه یې زورکی غورځېدلی دی. د دې ډول لنډیو بېلگې هم د نورو فعلي لنډیو پرتله کمې دي. بله بېلگه:

چې د زړه باغ مې پرې تازه وه

هغه مالیار بېلتون بندي د عمر که نه

(لایق او مومند، ۱۳۶۱: ۱۷۳)

**پایله**

په دې څېړنیزه مقاله کې پښتو لنډۍ د وروستي ټکي د بدلون له پلوه وڅېړل شوې، چې پایله یې د لنډیو یوه نوې ډلبندي ده. دا ډلبندي د لنډۍ د دویمې مسرې د پای کلمو پر جوړښت او څرنګوالي ولاړه ده. په دغو کلمو کې وروستنی دوې څپې ډېرې مهمې دي؛ ځکه چې یوه یې د لنډۍ د درنو څپو د متناسب ترتیب روستی څپه ده، چې موزیکال آهنګ لري او د لنډۍ وزن پرې ولاړ وي. بله یې د لنډۍ اخري مترنمه څپه( زور a او نه na ) ده، چې د اوږدولو یا ازانګه کولو ښه قابلیت لري او د وروستی خجنې څپې آهنګ ساتي او خاصه ښه ورکوي. دا څپه د همدې ځانګړنو له برکته لنډۍ ته اساني او رواني ورکوي او آهنګ یې بشپړوي. که دغه څپه وغورځول شي یا په بله داسې څپه بدله شي، چې ذکر شوې ځانګړتیاوې ونه لري، نو بې‌شکه چې لنډۍ به خپله رواني، وزن او اهنګ وبایلي. دا څېړنه؛ لنډۍ پر دوه ( نومیزه او فعلي ) ډلو وېشي او بیا هره ډله پر کوچنیو ډلګیو تقسیموي. د نومیزو لنډیو پای په نوم/ ستاینوم شوې وي. که نوم/ستاینوم مفرد وي، تل په ندایي حالت راځي، چې د لنډۍ وروستی خجنه او وریسې مترنمه څپه جوړوي. که نوم مفرد نه و، یوازې د (ونه) په روستاړي به جمع شوی وي، دلته د نوم وروستی توری او د روستاړي لومړی توری په ګډه خجنه څپه او د روستاړي پاتې برخه (نه) د لنډۍ وروستی مترنمه څپه جوړوي. فعلي لنډۍ هغه بولو، چې په پای کې یې فعلونه راغلي وي او پر شپږو برخو وېشل شوي دي. د دې لنډیو د سلاست، وزن او اهنګ د بشپړولو په موخه وروستی څپه د زور او مترنم(نه) په اضافه کولو جوړېږي، چې د فعل برخه نه وي. په دې ډله کې دا درې ډوله لنډۍ ډېرې کمې دي او په ندرت پیدا کېږي، هغه چې فعل یې د متکلم او مخاطب جمع ښیي، لکه: ځو او شو، هغه چې تر فعله وروسته یې د تېرمهال (و) راغلی وي، لکه: لیدلی و، او هغه چې فعل یې په زورکي پای ته رسېدلی وي، لکه: کاته.

**ماخذونه**


۱- بېنوا، عبدالروف. (۱۳۹۰ل). پښتو لنډۍ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۲- رفیع، حبیب الله. (۱۳۴۹ل). د خلکو سندرې، کابل: علوم اکاډمي.

۳- زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۹ل). پښتو بدلمېچ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴- شینواری، دوست محمد. (۱۳۸۵ل). د پښتو ولسي ادب لارې، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۵- طایر، محمد نواز. (۱۹۸۰ز). ټپه او ژوند، پېښور: یونیورستي، پښتو اکاډمي.

٦-لایق، سلیمان. مومند، مجاور احمد او همکاران. (۱۳٦۱ل). پښتو لنډۍ،؟: نیو کتاب پلورنځی.

۷- منګل، علي محمد. (۱۳۹۱ل). ګلونه په لنډیو کې. کابل: شعیب مطبعه.